NHS
Test and Trace

**د آزمېښت له پیلولو وړاندې دا ټول لارښود په ځیر سره ولولئ.**
**له هغه څخه توپیر ولري چې تاسو له دې مخکې کارولی و.**

# د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره ستاسو ګام په ګام لارښود




دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

دغه لارښود تاسو ته ښيي چې څه ډول د خپل ځان او نورو د COVID-19 آزمېښت ترسره کړئ، او د پایلې راپور د روغتیا ملي خدمت (NHS) ته واستوئ.

د ولزي په ګډون **بدیلې ژبې** او ویډیویي لارښوونې په **gov.uk/covid19-self-test-help** کې د لاسرسي وړ دي

**د خپلې ازموینې ټولې پایلې NHS ته راپور کړئ**

# تاسو باید څه وکړئ

## ستاسو ګام په ګام لارښود

15 دقیقې ترتیب

په مهربانۍ سره لارښوونې ولولئ او پړاوونه په سمه توګه ترسره کړئ. هر آزمېښت نږدې 15 دقیقې وخت نیسي او پایله به یې 15 دقیقې وروسته چمتو شي.

### د دې بروشور منځپانګه



| برخه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| **1** | د خپل د آزمېښت ساحه چمتو کړئ | 6 |
| | د خپل د آزمېښت د کېټ محتوا وګورئ | 7 |
| **2** | خپل آزمېښت ترتیب کړئ | 8 |
| **3** | خپل د پزې د ترشحاتو آزمېښت ترسره کړئ | 10 |
| | د کوم بل چا ارزول | 11 |
| **4** | د پزې د ترشحاتو د آزمېښت پروسس کول | 12 |
| **5** | خپله پایله ولولئ | 14 |
| **6** | د خپلې پایلې راپور ورکړئ | 15 |
| **7** | ستاسو د پایلو معنا څه ده | 16 |
| **8** | د آزمېښت فعالیت | 17 |
| **9** | په خوندیتوب سره ستاسو د آزمېښت د کېټ لرې کول | 17 |
| | د خپل د آزمېښت پایله یادښت کړئ | 18 |



## له هرو 3 کسانو څخه یو تن یې نه پوهیږي چې په COVID-19 اخته دی.

په منظم ډول د خپل ځان معاینه کول د ناروغۍ د خپرېدو کچه را کمولي او زموږ په کورنۍ او ټولنه کې د زیانمنونکو خلکو په خوندي کولو کې مرسته کوي.

دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.



## د آزمېښت ترسره کولو له پاره لارښوونه

په لارښود کې ګټوري لارښوونې، نصیحتونه او د خبرتیاوو بکسونه دي چې له تاسو سره مرسته کولای شي. د دې لارښوونو د ګام پر ګام عملي کولو سره به تاسو یوه د باور وړ پایله ترلاسه کړئ.

### عمومي لارښود او خبرتیاوې

- که مو د سوب پر مهال پزه وینې شوه، نو سوب کول ودروئ. سوب آزمویل کېدای نشي.
- محصول له طبیعي لاستیک ربړ څخه نه دی جوړ شوی. که څه هم په محصول کې د طبیعي ربړ لاستیک د آثارو شتون او ځارل چې وروستي کاروونکي ته لیږدول کېږي، په بشپړه توګه نشي ردېدای.
- د آزمېښت کېټ د ماشومانو له لاسرسي څخه لرې وساتئ.
- د کېټ ټولې اجزاوې د یو ځل کارولو له پاره دي، پرته د بهر کولو د ټیوب د ساتنې له وسیلې څخه. د کېټ یو ځل کارول شوي توکي لکه سواب او یا د بهر کولو ټیوب بیا ځلې **مه کاروئ**، پرته د ټیوب د ساتلو له وسیلې څخه.
- د بېلا بېلو کېټو د بکسو توکي **مه سره یو ځای کوئ**. یواځې هغه توکي وکاروئ چې په کېټ کې چمتو شوي دي.
- که چېرته د آزمېښت توکي د کور د پاکولو په توکو لګېدلي وي (په ځانګړې توګه سپینوونکي مایع)، **مه یې کاروئ**، ځکه کېدای شي دا کار د ناسمې پایلې لامل شي.
- د لمر تر مستقیمو وړانګو لاندې آزمېښت **مه ترسره کوئ**، ځکه دا کار د ناسمې پایلې لامل کېدای شي.
- دا کېټونه یوازې د انساني استفادې له پاره جوړ شوي دي.
- د وېستونکي ټیوب د ساتلو وسیله لرې **مه غورځوئ**، دا د نورو آزمېښتونو له پاره هم کارول کېږي.

**لارښوونه**

- د آزمېښت کېټ په یوه داسې کوټه کې چې د تودوخې درجه یې عادي وي او وچ او یخ ځای کې وساتئ (له 2° څخه تر 30° پورې).
- د لمر تر مستقیمو وړانګو لاندې یې مه ساتئ او مه یې په فریزر کې ساتئ.
- کېټ باید په داسې کوټه کې وکارول شي چې د تودوخې درجه یې (له 15° څخه تر 30° درجو پورې وي). که چېرته کېټ په داسې ځای کې ساتل شوی وي چې د تودوخې درجه یې له 15° درجو څخه کمه وي، نو له استعمال څخه وړاندې یې د30 دقیقو له پاره په داسې ځای کې کېږدئ چې تودوخه یې عادي وي.


دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

# د دې آزمېښت په اړه

## ولې باید خپل ځان آزمېښت کړئ

د COVID-19 (انټیژن) دغه د خپل ځان آزمېښت کولو کېټ د پزې د سوب یو چټک آزمېښت دی تر څو معلومه چې تاسو په ناروغۍ اخته یاست کنه. دا د هم د هغو خلکو له پاره دی چې نښې نښانې لري هم د هغو له پاره دی چې نښې نښانې نلري. تاسو باید په هر صورت د هېواد په کچه لارښوونې وڅارئ چې کوم ډول آزمېښت ستاسو له پاره مناسب دی.

### که ستاسو د COVID-19 د آزمېښت پایله مثبته وي نو تاسو باید:

- د ناروغۍ د خپرېدو د کچې په کمولو کې مرسته وکړئ، تاسو او ستاسو کورنۍ باید د دولت اوسنۍ لارښوونې تعقیب کړئ: **nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/**
- هغو کسانو ته خبر ورکړئ چې په تېرو 48 ساعتونو کې تاسو ورسره نږدې اړیکې ټینګې کړې وې او هغه ځایونه چې تاسو د نښو نښانو له پیلېدو وړاندې ورغلي وئ، یا له هغې ورځې څخه چې ستاسو د آزمېښت پایله مثبته ثابته شوه که څه هم ستاسو نښې نښانې نه وې موجودې، تر څو هغوی د احتمالي COVID-19 آزمېښت ترسره کړي. تل سیمه ییزې او ملي لارښوونې وڅارئ.

### که ستاسو د COVID-19 د آزمېښت پایله منفي وه

داسې ښکاري چې تاسو د آزمېښت د ترسره کولو پر مهال پر ناروغۍ اخته نه وئ. په دې توګه د آزمېښت منفي پایله د دې تضمین نه کوي چې تاسو به کرونا ویروس نلرئ. تاسو باید د دولت د لارښوونو عملي کولو ته دوام ورکړئ.

**لارښوونه**


که تاسو یا ستاسو ماشوم/ماشومان د کرونا ویروس (COVID-19) نښې نښانې لرئ او یا مو پر (COVID-19) له اخته کسانو سره اړیکه نیولې وي، په مهربانۍ سره په آنلاین بڼه د NHS لارښوونو ته مراجعه وکړئ: **nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19**

که تاسو یا ستاسو ماشوم/ماشومان د (COVID-19) نښې نښانې لري او حالت یې د خرابېدو پر لور روان وي، او یا مو ماشوم/ماشومان تر 7 ورځو وروسته نه وي روغ شوي، د **111** NHS آنلاین خدمتونو ته مراجعه وکړئ: **111.nhs.uk**. که تاسو انټرنټ ته لاسرسی نلرئ، **111** NHS ته زنګ ووهئ. د روغتیایي بېړنیو مرستو ترلاسه کولو له پاره له **999** سره اړیکه ونیسئ.

**که اندېښمن یاست نو مرسته ترلاسه کول مه ځنډوئ. پر خپل ځان باور ولرئ.**




## دا آزمېښت د چا له پاره مناسب دی




### له 18 کلنۍ څخه پورته ځوانان

خپل ځان معاینه کول او راپور، که اړتیا وي له مرستې سره.



### 12-17 کلونو پورې تنکي ځوانان

ځان معاینه کول او راپور د مشر کس تر نظارت لاندې. که اړتیا وي مشر کس به آزمېښت ترسره کړي.



### له 12 څخه کم عمره ماشومان

له 12 کلونو څخه کم عمره ماشومانو آزمېښت باید یو مشر کس ترسره کړي. که د یوه ماشوم په معاینه کولو اعتماد نلرئ، نو مه یې معاینه کوئ. که ماشوم د درد احساس کوي، آزمېښت ته دوام مه ورکوئ.

- هغه خلک چې په لیدلو کې ستونزه لري هم کولای شي زموږ له کېټونو څخه ګټه واخلي، مګر ښایي مرستې ته اړتیا ولري.
- دا آزمېښت د هغو خلکو له پاره مناسب نه دی چې له پزې څخه یې وینه بهېږي، یا په تېرو 6 میاشتو کې د مخ یا سر په برخه کې ټپي شوی وي.

### څو ځله باید آزمېښت وکړو

دا چې تاسو څو ځله آزمېښت وکړئ، دا ستاسو په شرایطو او اوسنیو ملي او سیمه ییزو لارښوونو پورې اړه لري.


### اضافي مرسته چېرته ترلاسه کولای شم

د خپل ځان معاینه کولو په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ: **gov.uk/covid19-self-test-help**

# 1. خپله د آزمېښت ساحه چمتو کړئ

**تاسو به اړتیا ولرئ:**

- یوې وخت ښودونکي آلې ته لکه لاسي یا دېوالي ساعت
- کاغذي دستمالونه
- هېنداره
- صافي
- د لاسونو له پاره د مېکروب ضد مایع یا صابون او ګرمو اوبو ته لاسرسی.



1 دغه لارښود په خورا غور سره ولولئ.
که تاسو لا ډېرې مرستې ته اړتیا لرئ، کولای شئ د سواب آزمېښت ویډیو په آنلاین بڼه وګورئ:
**gov.uk/guidance/covid-19-self-test-help**



2 آزمېښت له پیل څخه وړاندې سملاسي یوه سطحه پاکه، صفا او وچه کړئ تر څو د آزمېښت کېټ هلته کېږدئ. دا کار له ککړتیا څخه د آزمېښت د مخنیوي له پاره کېږي.






3 خپل لاسونه په بشپړه توګه د 20 ثانیو له پاره په ګرمو اوبو او صابون پرېمینځئ، یا د مېکروب ضد مایع وکاروئ.
که تاسو له یوه څخه زیات کسان آزمېښت کوئ یا یو تش ازمېښت تکراروئ، له هر آزمېښت وروسته سطحه پاکوئ او خپل لاسونه بیا ځلي پرېمینځئ. دا کار له ککړتیا څخه د آزمېښت د مخنیوي له پاره کېږي.




# د خپل کېټ توکي وګورئ

4 تاسو باید په خپله آزمېښت کارټ کې لاندې ټول توکي ولرئ:



د سواب باېر په مهر شوي پاکټ کې (x7)



د آزمېښت بکسه په مهر شوي پاکټ کې (x7)



بنده کڅوړه (x7) د خځلو بکس



د بهر کولو تیوب له حایل سره (x7)



څڅوونکی سرپوښ (x7)



د تیوب د ساتنې وسی (x1 بیا کاریدونکی) (لرې یې مه غورځوئ)

**لارښوونه**

**که کوم څه خراب شوي، مات او یا پاتې وي باید څه وکړو**

که تاسو پوه شوئ چې کوم څه خراب شوي، مات او یا پاتې شوي دي، په مهربانۍ سره د آزمېښت کېټ مه کاروئ. تاسو کولای شئ د پیرودونکو د خدمتونو له مرکز سره اړیکه ونیسئ او هغوی ته خبر ورکړئ. دغه ټلیفوني کرښې هره ورځ د سهار له 7 څخه د شپې تر 11 بجو پورې فعالې وي.

د **119** شمېرې ته (له موبایل او ټلیفون څخه په وړیا ډول زنګ ووهئ).
موږ په 200 ژبو خدمتونه وړاندې کوو، همدارنګه د برېټانیا په اشاروي ژبه هم خدمتونه وړاندې کوو.

که کومې آلې تاسو ټپي کړئ، د دې راپور ورکول به له نورو سره مرسته وکړي، لاندې لینک ته ورشئ. **coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk**

دغه لارښووني د Orient Gene د Covid-19 د خان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

# 2. خپل آزمېښت ترتیب کړئ

5 ټیوب له خپل مخ څخه لرې وساتئ، بند پوښ پر بهر کوونکي ټیوب خلاص کړئ چې د مایع له توییدو څخه مخنیوی وشي.



**خبرداری**

په بهر کوونکي حایل کې یو لړ ساتونکي مواد شته چې ښايي ځینې خلک ورسره حساسیت وښیي. که محلول له پوستکي یا سترګو سره تماس وکړ، په خورا ډېرو اوبو یې ومینځئ. که مو پوستکي سوزش کاوه نو درمل ورته واخلئ.

**خبرداری**

د بهر کولو د ټیوب بند شوی سرپوښ مه چیچئ.
د بهر کولو حایل په خپل پوستکي ونه وهئ.

6 د بهر کولو ټیوب چې حایل هم پکې وي، د بهر کولو د ټیوب د ساتنې په وسیله کې ځای پر ځای کړئ.



7 **خپله پزه په یوه** دستمال کې تشه کړئ او دستمال د کور په عمومي خځلدانۍ کې واچوئ. په دې توګه به ستاسو د پزې اضافي ترشحات لرې شي.

که تاسو کوم ماشوم/اړ کس معاینه کوئ، مرسته ورسره وکړئ چې هغه خپله پزه تشه کړي.







8 **د خپلې پزې له تشولو څخه وروسته لاسونه د 20 ثانیو له پاره په صابون او اوبو ومینځې**، یا مېکروب ضد مایع وکاروئ. دا د ازموینې له ککړېدو څخه مخنیوی کوي. که تاسو له کوم ماشوم/اړ کس سره مرسته کوئ چې خپله پزه تشه کړي، **نو تاسو دواړه باید خپل لاسونه** د 20 ثانیو له پاره ومینځئ، یا مېکروب ضد مواد وکاروئ.




9 د سواب بایر له مهر شوي پاکټ څخه را واخلئ. د سواب نرم ټکه یې نوک وپېژنئ.




10 د سواب پاکټ خلاص کړئ او سواب ترې را وباسئ.



**خبرتیا**

د سواب ټکه یې نوک له خپل لاس یا کومې بلې سطحې سره مه لګوئ.

# 3. خپله د سواب نمونه واخلئ

**خبرتیا**

په مهربانۍ سره ډاډ حاصل کړئ چې له نمونې اخیستلو څخه وړاندې د له پزې څخه مېخک او نور زېورات لرې کړئ.

**که تاسو له 12 کلنۍ څخه کم عمره ماشوم یا داسې څوک معاینه کوئ چې مرستې ته اړتیا لري، نو په 11 مخ کې شته پراوونه ترسره کړئ**


## د خپل ځان آزمېښت کول

**10 د پزې لومړی سورې**

د سواب تکیه یي نوکه د پزې په سوري کې دننه کړئ (نږدې 2.5 سانتي متره)، ډاډ حاصل کړئ چې د سواب تکه یي نوکه 2.5 سانتي ستاسو په پزه کې ننوتې ده.

سوب وړو، د خپلې پزې په سوري کې **پنځه خلي وڅرخوي**. ډاډ حاصل کړئ چې د سواب تکه یي نوکه مو د پزې سوري ته سم ننوتې ده.


زور مه ورکوئ او اړتیا نشته چې په خپله پزه فشار راوړئ.




**11 د پزې دویم سورې**

له هماغه سواب څخه په استفادې، د سواب تکه یي نوکه د خپلې پزې په دویم سوري کې دننه کړئ (نږدې 2.5 سانتي)، ډاډ ترلاسه کړئ چې د سواب نوکه د پزې په دویم سوري کې 2.5 سانتي ننوتې ده.

سوب وړو، د خپلې پزې په سوري کې **پنځه خلي وڅرخوي**. ډاډ حاصل کړئ چې د سواب تکه یي نوکه مو د پزې سوري ته سمه ننوتې ده.




**خبرتیا**

که مو د سواب پر مهال پزه وینې شوه، نو سواب کول ودروئ. سواب آزمېښت کېدای نشي. که وینه ونه دریده، توصیه کېږي چې له ډاکټر سره مو مشوره وکړئ.

دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.




# د بل چا معاینه کول

تر 12 کلنۍ څخه ښکته ماشوم باید د کوم مشر کس له لوري معاینه کړای شي. لاندې لارښود وځارئ چې څه ډول د یوه ماشوم یا مرستې ته د اړ کس آزمېښت ته چمتووالی ونیسي او آزمېښت یې ترسره کړئ. تاسو کولای شئ یوه لارښود ویډیو دلته وګورئ: **gov.uk/guidance/covid-19-self-test-help**. که تاسو د ماشوم آزمېښت ترسره کوئ نو هغه ته د آزمېښت کېټ ونښیئ او ورته وواياست چې تاسو څه کول غواړئ. که شوني وي، ماشوم د کوم چا په زنګون کېنوئ یا چا ته وواياست چې د هغه لاس پورته کړي. له ماشوم څخه وغواړئ چې خپله پزه په یوه کاغذي دستمال کې تشه کړي. دستمال د خځلو په سطل کې واچوئ.

**10 د پزې لومړی سورې**

د سواب تکیه یي نوکه د هغه ماشوم/شخص د پزې په سوري کې دننه کړئ چې تاسو یې آزمېښت کوئ.


سوب وړو، د هغوی د پزې په سوري کې **پنځه خلي وڅرخوي**. زیات فشار ته اړتیا نشته او سواب په زوره پزې ته مه ننباسئ، ډاډ حاصل کړئ چې د سواب تکه یي نوکه د پزې لومړي سوري ته سمه ننوتې ده. زور مه ورکوئ او اړتیا نشته چې په خپله پزه فشار راوړئ.




**11 د پزې دویم سورې**

له هماغه سواب څخه په استفادې، د سواب تکه یي نوکه د هغه ماشوم/شخص د پزې په دویم سوري کې دننه کړئ چې آزمېښت یې ترسره کوئ.

سوب وړو، د هغوی د پزې په سوري کې **پنځه خلي وڅرخوي**، ډاډ حاصل کړئ چې د سواب تکه یي نوکه د پزې سوري ته سمه ننوتې ده.





**خبرتیا**

که د سواب پر مهال د هغوی پزه وینې شوه، نو سواب کول ودروئ. سواب آزمېښت کېدای نشي. که وینه ونه دریده، توصیه کېږي چې له ډاکټر سره مشوره وکړئ.


دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

# 4. د سواب نمونه پروسس کړئ





**12** د سواب تکیه یې نوکه د بهر کولو د تیو په مایع کې کېږدئ.


د سواب نوکه د بهر کولو د تیوب پر غاړه په زوره کېکاږئ، د تیوب پر غاړه یې **لږ تر لږه 6 ځلې** ځای بدل را بدل کړئ.



**13** سوب د بهر کولو په تیوب کې پرېږدئ، **وخت وټاکئ او د یوې دقیقې** له پاره یې هلته پرېږدئ.




**14** سوب د بهر کولو له تیوب څخه را بهر کړئ.



**15** سوب په پلاستیکي بند بکس کې کېږدئ.

**لاربښوونه**

دغه بند پلاستیکي بکس د خځلو د بکس په توګه کارېدای شي.



**16** د تیوب سرپوښ پرې په **زوره** کلک کړئ، چې هېڅ مایع ترې بهر نشي.

**د بهر کولو تیوب بېرته د بهر کولو د تیوب د ساتنې په وسیله کې ځای پر ځای کړئ.**



**17** پر بند پاکټ **د اعتبار نېټه (EXP) وګورئ**. د آزمېښت کارټ له بند پاکټ څخه را بهر کړئ او پر یوه پاکه سطحه یې کېږدئ.

**خبرتیا**

د آزمېښت هغه کارټ چې له 30 دقیقو څخه د ډېر وخت له پاره له پاکټ څخه د باندې پاتې شي، له هغې څخه باید ګټه وانه خیستل شي. داخلي وچوونکي بکسه او پاکټ په احتیاط سره د خځلو په پلاستیکي سطل کې واچوئ.




**18** د بهر کولو تیوب په **آرامۍ سره** کېکاږئ تر څو **4 څاڅکي** مایع ترې د آزمېښت د بکسي د نمونې پر آله (پر **S** شکله ځای) وڅڅېږي.

**لاربښوونه**

داډه شئ چې د آزمېښت کارټ مو **پر هواره سطحه** ایښی دی. د آزمېښت کارټ د آزمېښت پر مهال مه خوځوئ. ډېر یې هم مه ډکوئ.




**19** **وخت وټاکئ.**

**15 دقیقې صبر وکړئ تر څو خپله پایله ولولئ.**



دغه لاربښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

# 5. خپله پایله ولولئ

اړين





آزمېښت له شل دقيقو څخه د ډېرې مودې له پاره مه پرېږدئ، ځکه دا کار کولای شي پایله له منځه يوسي.

## مثبته پایله


دوه کرښې ښکاري. يوه رنګه کرښه باید د کنټرول په کرښه کې د (C) په ساحه کې وي، او بله رنګه کرښه باید د آزمېښت په کرښه کې د (T) په ساحه کې وي.

دوه کرښې چې يوه يې C ته نږدې وي او بله يې T ته نږدې وي، ان پيکه کرښې ښيي چې پایله مثبته ده.





اړين

که تاسو پایله مثبته وه، باید خپل ځان جلا کړئ او کورنی مو باید د ځان جلا کولو له پاره د دولت لارښوونې تعقيب کړي:
**nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/**




## منفي پایله

د کنټرول په کرښه (C) کې يوه رنګه کرښه خرګندېږي. د آزمېښت په ساحه (T) کې هېڅ کرښه نه خرګندېږي.




## باطله پایله


د کنټرول کرښه (C) نه خرګندېږي.

دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.



# 6. د خپلې پایلې راپور ورکړئ

## تاسو باید د خپلې مثبتې، منفي او يا باطلې پايلې راپور NHS ته ورکړئ.





د ټولو آزمېښتونو پایلې له پوهانو سره مرسته کوي تر څو د نويو ويروسونو خپرېدنه تشخيص کړي او د تدابيرو لارښوونه وکړي. که خلک يواځې د مثبتې پایلې راپور ورکړي، دا به له اصلي کچې څخه د ناروغۍ کچه زیاته وښيي.

نو که چېرته ستاسو پایله منفي يا باطله هم وي، NHS ته به ډاډ ورکړئ چې معلومات دقيق دي.

تاسو د خپل آزمېښت د پایلې د راپور ورکولو له پاره لاندې کوډ QR او ID نمبر ته اړتيا لرئ.

## آنلاین راپور ورکړئ (په چټک ډول)



که تاسو په انګلستان، ویلز يا شمالي آيرلنډ کې اوسېږئ نو لاندې لينک ته مراجعه وکړئ:
**gov.uk/report-covid19-result**

که په سکاټلنډ کې اوسېږئ لاندې لينک ته مراجعه وکړئ:
**covidtest.scot**

## يا د ټليفون له لارې راپور ورکړئ



**119** ته زنګ ووهئ

ټليفوني کرښې هره ورځ د سهار له 7 څخه د شپې تر 11 بجو پورې روښانه وي (له موبايل او ټليفون څخه په وړيا ډول زنګ ووهئ).

دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.

# 7. ستاسو د پایلې معنا څه ده

## تاسو یوازې هغه مهال خپل آزمېښت بشپړ کړی دی چې د پایلې راپور مو ورکړی وي

### مثبته پایله

که مو پایله مثبته وه، دا په دې معنا ده چې تاسو اوس پر COVID-19 اخته یاست او د نورو خلکو د اخته کولو ګواښ هم شته. تاسو باید ځان جلا کړئ. کله چې تاسو د خپلې پایلې راپور ورکوئ، نو تاسو ته به د راتلونکو پړاوونو د ترسره کولو له پاره نور معلومات درکړل شي.

**خبرتیا**

تاسو او هر کسان چې له تاسو سره اوسېږي، باید شته ملي او سمه ییزې لارښوونې دلته وګورئ:
[nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/self-isolation-and-treatment/](nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/self-isolation-and-treatment/)

### منفي پایله

که ستاسو پایله منفي وه، دا په دې معنا ده چې تاسو د آزمېښت پر مهال پر کرونا اخته نه وئ. مګر بیا هم منفي پایله دا تضمین نشي کولای چې تاسو پر COVID-19 اخته نه یاست.

که ستاسو پایله منفي وه، تاسو باید د ملي او سیمه ییزو لارښوونو څارلو ته دوام ورکړئ، بیا بیا لاسونه ومینځئ، ټولنیز واټن وساتئ او د اړتیا په صورت کې ماسک واغوندئ.

که په تاسو کې نښې نښانې څرګندې شوې، باید خپل ځان جلا کړئ او اوسنی توصیه شوی آزمېښت دلته ترسره کړئ: [gov.uk/get-coronavirus-test](gov.uk/get-coronavirus-test) یا د پیرودونکو د خدمتو مرکز ته په **119** شمېره زنګ ووهئ. ټیلیفوني کرښې هره ورځ د سهار له 7 څخه د شپې تر 11 بجو پورې روښانه وي. تاسو او ستاسو کورنۍ باید ملي لارښوونې و څاري.



### باطله پایله

که ستاسو پایله باطله وه، دا په دې معنا ده چې د آزمېښت په پایله کې ویل کېدای نشي چې تاسو پر ویروس اخته واست. د لومړي آزمېښت هېڅ توکی بیا ځلي مه کاروئ او د آزمېښت پروسه له لومړي پړاو څخه له سره پیل کړئ. د لومړي آزمېښت هېڅ توکی بیا ځلي مه کاروئ، او د آزمېښت پروسه له لومړي پړاو څخه پیل کړئ.

### که ستونزه لا هم پر ځای وه

که ستونزه را هم پر ځای وه، د آزمېښت له کېټ څخه ګټه اخیستنه سملاسي بنده کړئ. که له تاسو سره بل آزمېښت د لاسرسي وړ نه وي، کېدای شيد NHS COVID-19 د اپلیکېشن یو بل ډول آزمېښت ترسره کړئ یا لاندې لینک ته مراجعه وکړئ: [gov.uk/get-coronavirus-test](gov.uk/get-coronavirus-test) او یا د پیرودونکو د خدمتو مرکز ته په **119** شمېره زنګ ووهئ. ټیلیفوني کرښې هره ورځ د سهار له 7 څخه د شپې تر 11 بجو پورې روښانه وي.

## 8 د آزمېښت فعالیت

دا آزمېښت تر ډېره د هغو خلکو مثبته پایله په ډاګه کوي چې په لوړه کچه کرونا ویروس (COVID-19) ولري.

دا په دې معنا ده چې هغه کسان تشخیصوي چې په ناروغۍ اخته وي او یا یې ځان جلا کولو ته اړتیا لري.

## 9 خپل د آزمېښت کېټ په احتیاط سره لرې کړئ

کله چې ستاسو آزمېښت بشپړ شو، د آزمېښت د کېټ ټول کارول شوي توکي، پرته د ټیوب د ساتنې له پلاستیکي وسیلې څخه د خپل کور په عمومي باطله داني کې واچوئ.

د ټولو له لرې کولو وروسته مو لاسونه په بشپړه توګه ومینځئ.

**لارښوونه**

یواځنۍ بند بکس د ځخلو د سطل په توګه کارول کېدای شي.

## د خپل د آزمېښت پایله یادښت کړئ

دا ستاسو د خپل ریکارډ له پاره ده. تاسو لا هم باید د خپلې پایلې راپور NHS ته ورکړئ (د معلوماتو ترلاسه کولو له پاره 15 مخ وګورئ).

لاندې وېب سایټ ته مراجعه وکړئ: **gov.uk/report-covid19-result**

که په سکاټلېنډ کې اوسېږئ لاندې وېب سایټ ته مراجعه وکړئ: **covidtest.scot**

| د کټ QR کوډ/ ID نمبر<br>د آزمېښت کټ | آزمېښت چا ترسره کړ | نېټه | وخت | د آزمېښت<br>پایله |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |



## ستاسو په کټ کې لاندې توکي موجود دي

| توکي | 7-بکسه |
|---|---|
| د کارونې له پاره لارښوونې (دا سند) | 1 |
| د سواب بایر په مهر شوي پاکټ کې | 7 |
| د آزمېښت کارټ په مهر شوي پاکټ کې | 7 |
| د بهر کولو ټیوب له بایر سره | 7 |
| سرپوښ | 7 |
| بند بکس | 7 |
| د بهر کولو د ټیوب د ساتلو وسیله | 1 |
| QC تصدیق | 1 |
| | x |

د دې آلې ورکول یوازې د روغتیا او ټولنیزې پاملرنې څانګې (DHSC) د پراختیا د یوې برخې په توګه د NHS د آزمېښت او څارنې د پروګرام له مخې مجاز دي.

Zhejiang Orient Gene Biotech Co.,Ltd
آدرس: 3787#, East Yangguang Avenue, Dipu Street,
Anji 313300, Huzhou, Zhejiang, China (چین)
تلیفون: 86-572-5226111+ فیکس: 86-572-5226222+
ویب پاڼه: www.orientgene.com
quality@orientgene.com

CE 0123

UK RP
SENSUS GROUP LTD
آدرس: The Barn, Tednambury Farm, Tednambury,
Spellbrook, Herts, CM23 4BD
United Kingdom (انګلستان)

EC REP
Shanghai International Holding Corp. GmbH (Europe)
آدرس: Eiestrasse 80, 20537 Hamburg, Germany (جرمني)

د سواب معلومات :
Jiangsu ChangFeng Medical Industry Co., LTD
آدرس: Touqiao Town, Guangling DISTRICT,
Yangzhou, Jiangsu 225109 China (چین)

CE 0197

EC REP
Llins Service & Consulting GmbH
Obere Seegasse 34/2, 69124 Heidelberg, Germany (جرمني)
ایمیل: info@llins-service.com

**کارېدلي سمبولونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| 30°C / 2°C — په کې یې وساتئ 30°C - 2 | STERILE EO — عقیم کول په ایتایلین اکسایډ | تولیدوونکی | که بکسه خرابه شوې وه، له توکي څخه ګټه مه اخلئ |
| LOT — لاټ نمبر | د پای نېټه | IVD — د تشخیص طبي دستګاه | |
| له لمر وړانګو یې لرې وساتئ | د تولید نېټه | بیا ځلي یې مه کاروئ | خبرتیا، لارښوونو ته پام وکړئ |
| وچ یې ساتئ | د کارولو له پاره لارښوونې | Σ 7 — په بکسه کې د برخو شمېرې (7) | |
| UK RP — د انګلستان مسوول کس | LATEX — له لاټکس پرته | REF — د کټلاګ نمبر | STERILIZE 2 — بیا یې مه تنظیموئ |
| EC REP — اروپايي مسوول | | | |

د نسخې B22088-03 د پیل نېټه 2021/10/04

REF GCCOV-502a-H7OGE

دغه لارښوونې د Orient Gene د Covid-19 د ځان د چټک آزمېښت لپاره (GCCOV-502a-H7OGE) لپاره کارول کېږي.